د پنځه شهادت سالانو سيمو ... (handwritten motto)
چهارصفحه
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
نمبرمسلسل (۴۷ ۱۲) سال نزدهم شماره (۱۵۵) سه شنبه (۱) عقرب
۱۳۷۵ هـ ش (۱۰) جمادی الثانی (۱۴۱۷) هـ ق (۲۲) اکتوبر ۱۹۹۶م

دکابل په شمال کې دجگړې لومړۍ ليکه د درنو وسلو دډزو شاهده وه

دطالبانو الوتکو دبگرام هوايي ډگر قره باغ ، چاريکار اوځينې نورې سيمې بمباري کړې

دخواجه رواش هوايي ډگر دراکټونو دبريدونو سره سره دالوتنې اوکوزيدنې لپاره فعاليت درلود

کابل – ميزان ۳۰ مه :
پداسې حال کې چې طالبان او داحمدشاه مسعود ځواکونه دواړه ، ديوبل طرف دبريدونو دپه شاه تمبوئي ادعالري، داسې ويل کيږي چې د کابل دشمال دجگړې په ډگرکې نن کوم خاص بدلون ندی راغلی .
له کابل څخه مختلفې خبرې سرچينې ربوټ ورکوي چې هغه دوه لوري لاري چې کابل ښار لــه شمالي ولاياتو سره نښلوي پرون هم ددرنو وسلو ترډزو لاندې وې .
بل خوا داهم ويل شوي چې دطالبانو جنگي الوتکو چاريکار،قره باغ ، دبگرام هوايي ډگرشااوخوااوځينې نورې سيمې بمبارکړې دي .
دپرون ورځې دجگړو په هکله دطالبانو ويانډ مولوي وکيل احمد بيگاه شپه وويل : د شمال ائتلاف ځواکونو دبگرام له لوري غوښتل تعرض وکړي خوله شکست سره مخ شول، همدارنگه دکلکان پرسيمه يې بريد وکړخو په شاشول او دجگړې په ډگرې په لس گونو مړي دځو قوماندانانو په گوډن پراته دي .
بل خواداحمد شاه مسعود ويانډ ډاکترعبدالله هم ددې جگړو په اړه له بي بي سي راډيو سره دمرکې په ترڅ کې وويل : نن يوازې ددواړو لوريو له خوا ددرنووسلو اور تبادله شوې اوڅه نوې حرکت ندی ترسره شوی . دطالبانو الوتکو ځينې غيرنظامي سيمې تربمباري لاندې نيولې دي .
پاتې «۸» مخ «۶» ستون

الهي لارښوونې

کوم خلک چې په خپل رب کافرشوي دي دهغو دعملونو مثال دهغوايرې په شان دی چې هغه ديوې طوفاني ورځې پرهرکې الوزولي وي . هغوي به دخپلو کړو وړو هيڅ ميوه ونشي ميندلای . همدانتهايي ورکاوي دي. آيانه وينې چې الله دآسمانونو اوځمکې پيدايښت په حق بانډې درولی دی؟ که هغه وغواړي نوتاسي به له مينځه يوسي اويونوي مخلوق به ستاسي په ځاي راولي . دغه کار هغه ته هيڅ گران ندی .
(ابراهيم – ۱۸ – ۲۰)

غفورزی خواستار اعزام هيئت تحقيق سازمان ملل به افغانستان شد

نيويورک – ۱ عقرب :
عبدالرحيم غفورزي معين وزارت خارجه دولت افغانستان ديروز ازسازمان ملل درخواست نمود يك هيئت تحقيق به افغانستان بفرستد .
به گزارش خبرگزاري رويتر اين سومين درخواست مشابه « غفورزي » ازسازمان ملل متحد است . وي گفت : دولت اسلامي افغانستان آماده است
بقيه درستون «۷» صفحه «۴»

«هلالی» فرستاده خاص صدر اعظم پاکستان وارد تهران شد

اسلام آباد – ۳۰ ميزان :
پاکستان خواهان همکاري باتهران براي حل مشکل افغانستان است .
صفرهلالي فرستاده خاص صدراعظم پاکستان براي تسليم پيام بي نظيربوتو صدراعظم اين کشوربه رفسنجاني رئيس جمهور ايران روزگذشته وارد تهران شد.

براساس تبصره راديو مسکو:

هيئت پاکستانی برای ايجاد تفاهم ميان برخی گروه های افغان تلاش می کرد

مسکو – اول عقرب :
هيئت عالي رتبه پاکستاني آنچه باخود بکابل آورده بود بيانگر تفاهم ومذاکره ميان برخي جناح هاي ذيدخل قضيه افغانستان بوده است .
راديو مسکو دربرنامه (امروز درجهان) پيرامون اوضاع وحالات
بقيه درستون «۵» صفحه «۴»

په جگړه کې ښکېل لوري داوربند لپاره مختلف شرطونه وضع کوي

پرون ترغرمې وروسته په دوو بجو بايد رسمي اوربند نافذ شوی وای

طالبان داوربند سره دبنديانو تبادله اودشمال ائتلاف دکابل غير نظامي کيدل غواړي

جنرال يوسف وايي چې تراوربند وروسته دگډ سياسي کميسيون له خواد پراخ بنسټه حکومت په جوړښت باندې دنظر اختلاف شته

کابل – دميزان ۳۰ مه :
دهغه هڅو سره سره چې دپاکستان دکورنيو چارو دوزير جنرال نصيرالله بابر په مشرې دلوړرتبه هيئات له خوا دطالبانو اوشمالي اتحاد ترمينځ داوربند لپاره روانې دي، تراوسه ددواړو لوريو ترمينځ رسمي اوربند ندی نافذ شوی .
دخبري منابعودربوټ په اساس دطالبانو مشران وايي چې دوي دبنديانو دتبادلې په شرط له اوربند سره توافق کوي، خوبل خوا دجنرال دوستم ويانډ ځرگنده کړې چې له اوربند سره جوخت بايد دکابل ښار غيرنظامي شي . او دبوه مشترك کميسيون له خوا دپراخ بنسټه اداري په جوړښت کاريبل شي .
دپاکستان راډيو دربوټ مطابق ددې هيواد دکورنيو چارو وزير متقاعد جنرال نصيرالله بابر چې همدااوس په افغانستان کې دمتحاربو ولو ترمينځ دروغې جوړې لپاره کارکوي ، له دواړولوريو څخه دپرون ماښپښين له دوييجو څخه داوربند پرسر توافق کړي و، خو دااوربند عملي نشو
پاتې «۸» مخ «۵» ستون

دوکتور «هول» وارد کابل شد

کابل – ۳۰ ميزان :
داکتررابرټ هول نماينده خاص سرمنشي سازمان ملل متحد در امورافغانستان روزگذشته وارد کابل شد.
بقيه درستون «۵» صفحه «۴»

داکتر عبدالله سخنگوی نيروهای دولتی :

بمباران طيارات طالبان مانع اجرای آتش بس شد

ما آخرين کوشش خود را برا ی حل قضيه ازطرق صلح آميز خواهيم کرد

ماتاحدي کـه صلـح وامنيت درافغانستان تامين شده بتواند حاضربه انعطاف پذيري هستيم ولي اگرببدانيم که صح تأمين نميشود، ادامه وضع فعلي براي مردم ماقابل تحمل نيست .
داکترعبدالله باظهار ايــن مطلب افزود : درصورتي کـه مسئله غيرنظامي شدن کابل مطرح نباشد هدفي که آرامي
بقيه درستون «۶» صفحه «۴»

عبدالمنان نيازی سخنگوی طالبان :

آماده نيستيم ازکابل بيرون شويم

مابخاطر تبادله اسرا آماده آتش بس هستيم

قندهار – ۳۰ ميزان :
مابه صداقت طرف مقابل نگاه ميکنيم که آنها تاچه اندازه درکاروقول خود صادق بوده وبه آن وفاميکنند .
اين مطلب راعبدالمنان نيازي سخنگوي طالبان درگفتگو با بي بي سي اظهارداشت که ازسوي ملامحمد عمر اعلان شده که مادررابطه باآتش بس به اين نظريم که هيئت ۱۲ نفري ازطرفين (جنبش و طالبان) تشکيل شود بعدازاينکه لست هاي اسراي جنگي راترتيب دادند ماآماده
بقيه درستون «۳» صفحه «۴»

استکبار درپی بقدرت رساندن گروهی درافغانستان است که چهره اسلام رانامطلوب نشان دهد

آيت الله يزدی

تهران – اول عقرب :
استقرارصلح وثبات درافغانستان تنها ازطريق صلح آميز ممکن بوده اماپحران اين کشورهيچگونه حل نظامي اي ندارد.
آيت الله «يزدي» رئيس قواي قضائيه وامام جمعه مؤقت ايران طي سخنراني دربوهنتون تهران بااشاره به تحولات اخير اوضاع افغانستان تاکيد کرد که مجاهدين افغان اختلافات شان راخود حل نمايند .
رئيس قواي قضائيه ايران دخالت برخي قدرت هاي خارجي درامور افغانستان رامحکوم نموده اظهارداشت که استکبار درپي بقدرت رسانيدن گروهي درافغانستان است که چهره اسلام رابراي جهانيان خشن ونامطلوب نشان مي دهد .
بقيه درستون «۲» صفحه «۴»

جنرال يوسف سخنگوی جنبش :

درمذاکرات باهيئت پاکستانی به نتايجی که انتظار می رفت نايل نشديم

قطعات مادرخط مقدم جبهه حضوردارند ولی عملاً درجنگ سهيم نيستيم

طرح ما همان طرح «شورای عالی دفاع افغانستان» است

مزارشريف – ۳۰ ميزان :
روزگذشته باردیگر مذاکرات ميان هيئت عالي رتبه پاکستاني وسران جنبش ملي اسلامي درمزارشريف برگزار شد .
اين مطلب را جنرال يوسف سخنگوي جنبش ملي اسلامي بيان نموده افزود طي مذاکراتي که روزگذشته درمزارشريف صورت گرفت هيئت عالي رتبه پاکستاني که درراس آن جنرال بابر قرار داشت .
بقيه درستون «۱» صفحه «۴»

په جلال آباد کې دطالبانو څخه دملاتړ په نامه مظاهري وشوې

مظاهره کوونکو روسيه ، هند اوايران د افغانستان په چارو کې په مداخله تورن کړل

جلال آباد – دميزان ۳۰ مه :
دننگرهار ولايت په مرکز جلال آباد ښارکې پــه زرگونو تنو دطالبانو له حکومت څخه دملاتړ اودبهرني مداخلې دغندنې لپاره پراخه مظاهرې وکړې .
دخبري منابعو دربوټ په قول بدغه مظاهره کې چې دسهارله ۹ بجوڅخه تر۱۲ بجو پورې روانه وه مظاهره کوونکو دهند، روس او ايران پرضد شعارونه ورکول اوله
پاتې «۸» مخ «۳» ستون

د« او – آی– سي » سازمان مرستيال ډاکتر ابراهيم «بکر» وايي :

په راتلونکې غونډه کې به پريکړه وشي چې په «او – آی – سی» کې دافغانستان چوکۍ چاته ورکړل شي

اسلام آباد – دميزان ۳۰ مه :
داسلامي هيوادودکنفرانس سازمان (او آي سي) دعمومي منشي مرستيال داکترابراهيم بکر ووسته ترډې چې دتيرې پنجشنبې په ورځ يې له جنرال دوستم سره په مزار اودتيرې يکشنبې په ورځ يې له ملامحمد عمر سره په کندهار کې وکتل، ويلي چې د OIC په راتلونکې غونډه کې به پريکړه گيږي چې بدې سازمان کې دافغانستان کرسي چاته ورکړل شي .

قلعه مراد بيگ : افراد جنگی طالبان روز يك شنبه برمواضع نيروهای دولتی راکت باران مينمايند . اکنون نيروهای دولتی قلعه مراديبگ و اطراف ونواحی آن را زيرکنترول دارند .

روسيه از بازسازی چيچن خود داری می کند

رهبراستقلال طلبان چيچن مسکو رابه ايجاد مانع در روند صلح وبازسازي اقتصادي چيچن متهم کرد .
قرارگزارش خبرگزاري هاسليم خان يندر بايوف رهبر استقلال طلبان چيچن روزگذشته گفت روسها قصد دارند هيچ چيزي براي بازسازي چيچن نپردازند .
بقيه درستون «۶» صفحه «۴»

دوکتور ولايتی وزير خارجه ايران :

هرحکومتی که متکی بربيگانه باشد، دوامی نخواهد داشت

آنهايی که تصور می کردند گروه طالبان ميتواند قدرت مطلقه درصحنه افغانستان باشد، اکنون به اشتباهات خود پی برده اند

تهران – ۳۰ ميزان :
ديروز صفرهلالي نماينده خاص بينظيربوتو صدراعظم پاکستان درراس يك هيئت جهت مذاکره باسران جمهوري اسلامي ايران وارد تهران شد .
اين هيئت که پيام بينظيربوتو را عنواني رئيس جمهورهاشمي رفسنجاني باخود داشت باسران ايران پيرامون مسئله افغانستان ديدار ومذاکره کرد .
علي اکبر ولايتي وزير امورخارجه ايران درين مورد گفت : هيئت پاکستاني نگراني دولت متبوع خودرا ازوضع حاکم برافغانستان اعلان واظهارعلاقه کرد باهمکاري بين ايران وپاکستان به شکل جدي تر دنبال شود .
بقيه درستون «۱» صفحه «۴»

«بروجردی » معاون وزارت امور خارجه ايران :

سازمان ملل نتوانسته نقش تاثيرگذار درحل بحران افغانستان داشته باشد

نشست سه جانبه خنجان موازنه نظامی در داخل افغانستان راتغيرداد

تهران – ۳۰ ميزان :
اگراصول شناخته شده افغانستان مورد توجه قرارنگيرد وحکومت فراگير بامحدوديت حاکميت قانوني ايـن کشور شکل پيدا نکند بـر پيچيدگي بحران افغانستان افزوده خواهد شد .
اين مطلب را علاوالدين بروجردي معاون آسيا واقيانوسيه وزارت خارجه ايران طي مصاحبه ئي باراديو ايران بيان داشته افزود : تحولات جديد افغانستان باردیگر صحت نظريه ايران مبني براينکه مشکل افغانستان راه حل نظامي ندارد ولزوم حل اين معضله ازطريق مذاکره رابه اثبات رساند .
بروجردي سفراخير وزيرخارجه ايران به کشورهاي آسياي مرکزي را پاسخ به نيازجدي منطقه براي حفظ امنيت وثبات دانسته گفت : اين اقدام نمونه خوبي ازهمکاري منطقوي براي کمك به برقراري صلح وثبات محسوب ميشود که درآينده

اسلام آباد به طيارات طالبان اجازه پرواز به پاکستان داد

اسلام آباد – ۱ عقرب :
دربيانيه رسمي دولت پاکستان که روزيك شنبه دراسلام آباد نشر شد گفته شده که اين کشور حاضر است ميدان هوايي مؤقت عملياتي (غيرنظامي) وغيرعملياتي براي طيارات شرکت خط هوايي آريانا افغان درميدان هوايي کراچي فراهم سازد .
براساس گزارش آژانس خبري فرانسه پس ازسقوط کابل بدست طالبان، اولين
بقيه درستون «۳» صفحه «۴»

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی أفغانستان

مؤسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ

تحت نظر هیئت تحریر

تیلیفون: ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی: ۱۰۳۶ یونیورستی تاون - پېښور

طالبان دپښیمانی په لور ...!

ډېر واضح معلومیږي چي ډېر مهم خارجي طاقتونه نه پرېږدي چي طالبان په ټول افغانستان باندي واکمن شي. ددي مختلف عوامل دي، یوعلت شاید داوي چي دیوه ښاغلي په قول طالبان اسلام ته منسوب دي، نوکه دوي په دي بریالي کیږي چي «بحران» حل کړاي شي، بوواري بیا به دیوه پیچیده اوپه وینولړلي «بحران» دحل افتخار اسلام ته منسوب شي اوپه دي ترتیب به هغه لویه چي اصلاً داسلامي قوتونو دخپلو اواسلام دبدنامولو لپاره شروع کړاي شوي وه، داسلام په سرلوړي باندي تمامه شي.

که څه هم دطالبانو سیاسي چلند ښیئي چي که هغوي ته بشپړقدرت په لاس ورشي نوپه ناآګاهانه ډول داسلام دبدنامولو لپاره ښه ډېرکارکولاي شي، مګرداوسني بحران حل یوه ډېره ستره کارنامه ده اوپله خبره داده چي دااحتمال هم تشي نفي کیداي چي دپوره قدرت ددرلودلو په صورت کي طالبان له بهرني «دیکتیشن» نه یوڅه ځانونه بي نیازه وګڼي اوداسلام او خپل هیواد دسعادت لپاره دیو څه معقولیت مظاهره وکړي اوتریوه حده چاري داستحقاق په بنسټ وویشي.

په هرحال طالبان نه ددي لپاره تقویه کیږي چي داسلام لپاره نیکنامي ترلاسه شي اونه ئي ددي لپاره څوک غم خوري چي دافغانستان دخیر لپاره دي نقش ولوبوي.

طالبان باید داموضوع عمیقاً درک کړي، هغوي باید په دي ژورسوچ وکړي چي هغه قوتونه چي په ټول وجود، ټول کرکتر اوټول ژوند کي ئي داسلام بوي قدري نشته، هغوي دڅه لپاره له دوي سره دلچسپي لري، دڅه لپاره دوي ته ددوستي ټاټروکوي؟ روښانه ده چي هغوي خپل مشخص اهداف لري، اوهغه داسي اهداف دي چي په هیڅ توګه له هغوهدفونو سره ارخ نه لګوي چي طالبان ئي عنوانوي.

طالبان که په خپله نه پوهیږي، بوڅوک دي داسي پیداکړي چي وریاندي اعتمادوکړي او ورته وښودلاي شي چي پروني تجربې څه وي، پرون له هغه چا چي په تولولحاظونو ترتاسي قوي وو څه وشول، پرون هغو چي ترتاسي په ډېرو ښوموقعیتونو کي وو دکومو سببونو له مخي ډېرڅه وبایلل؟

طالبانوته جداً لازمه ده چي په افغانستان باندي په یواځي ځان دحکومت کولو سوچ پرېږدي، هغوي باید متوجه شي چي اوس حوادث ډېرګړندي واقع کیږي، اوضاع ډېره په چټکي بدلیږي، ددي احتمال په هیڅ توګه یومخ نشي ردیدلاي چي په دوي باندي ناوخته شي، هغه فرصت تري ضایع شي چي نن ورسره دي اوکولاي شي دیوه معقول روش په غوره کولو سره دهیواد دبحران په حل کولو کي اساسي نقش ولوبوي.

حالات داسي معلومیږي چي که څه هم طالبانو اوځینو نوروته ډېره بي ځایه ښکاره شي چي اوضاع ژر بیرته دطالبانو پرضد خوځیدلي شي، نه طالبان په هیڅ توګه دومره مضبوط دي لکه چي دوي فکر کوي او یاله بهرنه معلومیږي اونه دهغوي «دوستان» بیچاره ګان دومره دخپل واك او زور خاوندان دي چي دډېرو قهرجنواو زوروړو حادثو په مخ کي کلك دیوال شي.

موږ فکرکوو چي طالبان دپښیماني په لور روانیداي شي خدامعلومه نه ده چي هغه وخت به ئي پښیماني ورته ګټه ورسوي کنه؟

دافغانستان امنیت دسیمې دټولو هیوادو په ګټه دي

عبیدصافی

له روسي اشغالګرو یوځونو څخه دافغانستان دآزادي لپاره دالله په لارو کي توي شوي دوینو سمندرلانه و وچ چي داقتدار دلیونیانو اوعاقبت نااندیشوسیاسي مشرانو د ضد، خود سري او غرور دلاسه افغانستان بوخلي بیا داسي پراوته ورسید چي ملي یووالي، استحکام اوسلامتیائي له جدي ګواښ سره مخامخ دي. که پخوا دافغانستان مسلمان ولس یوازي له یودښمن سره لاس اوګریوان وخونن له ډېروپتو بدخواه واوبدنیتودښمنانو سره مشت اوګریبان دي، که پخوا دښمن ښکاره اوڅرګنده توګه دافغانستان پرحریم برېند تیري کړي وخونن دافغانستان دښمنان ډېردي تر شا په پوره مهارت اوچالاکي سره لاس وهني کوي، داسي لاس وهني چي له یوه ارخ اوطرف نه نه بلکي له څلورو اوجهتونونه را غزیدلي اودافغانستان دمسلمان ملت پرمړي ډ منګولي خښي دي په حقیقت کي افغانستان اوس دځوهیوادونو دذاتي لالچ اوهوس لپاره دقرباني ګډ ګرځیدلي اوهریوکوښښ کوي چي دغه ګډیواځې ځانته حلال او پرغوښوني ځان موړکړي، څوك دمذهبي رقابت، څوك دسیمه ایزو ګټو، څوك دیوځي ستراتیژي اوڅوك دخپلو تجارتي ګټویه خاطر لګیادي په افغانستان کړ، خپل بختونه آزموي حتي داسي کوښښونه هم په پوره شدومد سره روان دي چي افغانستان په څو برخو وویشي او بالاخره په خپلو خپلو هیوادوکي ضم کړي، که پدي برلاسي نشي نوکم ازکم دومره خودي وکړي چي په افغانستان کي ډېر مضبوط او نظریاتي اسلامي حکومت دجوړېدو مخه ونیسي چي راتلونکي وخت لپاره داسلام ګراي دردسر ورته پاتي نشي، ددي ټولو خبرو ثبوت لدي حقیقت نه په صفاتو ګڼه ترلاسه کیږي چي ذي علاقي هیوادونه دافغانستان په باب یونظرنلري که یوځوهیوادونه ډېر لوري مرسته کوي نوځینې نور هیوادونه بیا له هغه سره جدي حساسیت اوکرکه ښکاره کوي، که یو لوري ورته د جواز فتوي صادروي نوبل لوري ئي دنه جوازفرمان جاري کوي، دغه اختلافات دومره پراخ اوټند شوي چي دغه هیوادونه یو د بل په خلاف دمداخلي الزامونه لګوي اودعواګیو پرېره بي یوپربل اچوي، «دافغانستان مظلوم اوکړیدلي ولس هم پدي حقیقت ښه پوه دي چي هغوي دځینوهیوادونو دخپلي خوښي او نه خوښي درقابت په اورکي سوځي، که دغه هیوادونه په افغانستان کي پخپله دافغانانو په خوښه دحکومت جوړولو لپاره لاره هواره کړي نوڅه شك پرته به دجنګ اوجدل دغه لوي مصیبت پاي ته ورسیږي چي نه یوازي ګټه ئي افغانانو ته نه بلکي دسیمي ټولو هیوادوته به هم ورسیږي، حقیقت دادي چي افغانستان په یوداسي جغرافیاي موقعیت کي قرار لري چي دجنګ په صورت کي دسیمي هیوادونه لاتعلقه ترینه نشي پاتي کیداي، که افغانستان نا آرامه وي نوشاوخوا هیوادونه هم یو نه یوډول ناآرامي سره مخامخ کیداي شي چي ښکاره مثال ئي اوسني تازه وضعه ده چي پدي سره تقریباً لس دولس هیوادونه په سراسیمګي او پریشاني کي اخته دي، دلویو طاقتونو په شمول ټولو سیمه ایزو هیوادونوته ښکاردي چي په افغانستان کي لاس وهني نه ده وکړي اوددغه هیواد وضعه نوره طوفاني نکړي ځکه چي آرام اوپرامنه افغانستان دټولو سیمه ایزو هیوادونو دآرامتیا ضمانت دي، که یوهیواد دافغانستان په یو ځنډه کي د مداخلي غلطي کوي نوداورلمبي ئي دومره ژغړانده کیږي چي دسیمي شاوخواټول هیوادونه په حرکت کي ر اولي اواوضاع داسي متشنجه کوي چي دافغانستان په شمول ټوله مربوطه سیمه دکړکیچ اوجنګ په وګړیدلیږي، دا ځکه چي افغانستان په یوداسي حساس اونازك څلورلاري کي پروت دي چي دفساد اوامن په دواړو حالاتو کي نقصان اوګټه ئي شاوخواټولو سیموته سرایت کوي، نوځکه ټولو سیمه ایزو هیوادونه اولویو طاقتونو ته ښکاردي چي دافغانستان جغرافیایي اوتاریخي پس منظر په رڼاکي خپلي ټولي هلي ځلي دسولي ارتیات لپاره وقف کړي اودبي خایه اولایعني رقابتونونه لاس په سرشي ځکه چي ددوي ټولو ګټي یوازي په هغه صورت کي تامینداي شي چي افغانستان دامن اوثبات ځانګووګرځوي.

دافغانستان موجوده خطرناك او بوګنوونکي حالت په وړاندي دافغانستان ټول سیاسي او پوځي مشران له هرچانه زیات مسئولیت لري چي دخپل هیواد په اړه له مثبت فکراوتدبیرنه کارواخلي اودي حقیقت ته متوجه شي چي افغانستان نور دجنګ اوجدل تحمل اوبرداشت نلري، دزور جبر اودوسلي په زور اقتدارته رسیدل ناشوني کاردي اوهیڅوك نشي کولي چي دېردبو په ملاتراقتدارته ورسیږي، په افغانستان کي دجنګ سیاست ته په کرکه کتلي شي او ملت، جنګ جویان داسلام هیواد اوملت دښمنان بولي، حقیقت دادي چي په افغانستان کي دجنګ جاري ساتلو هیڅ اسلامي اوبین المللي مجوز نشته، یوازي داقتدار په سرجنګ اوجدل ته ادامه ورکول له اسلام اوملت سره سترخیانت دي اودمسلمان اسلامیت په لوي خطرکي اچوي.

دافغانستان مسلمان ملت له خپلومشرانو نه دامن استحکام، اتفاق او ورور ګلوي زیري اوریدوته سترګي په لاره دي اوله هرڅه نه لمړني هیله ئي داده چي مشران دافغانستان په تباه حالي او بدحالي باندي رحم وکړي دافغانستان پنځه لس لکوشهیدانو وینې ته په درنښت وګوري، هغوي داوینې دي لپاره دالله په حضورکي توي کړي وي چي افغانستان دکمونیزم اولادینیت له لوي فساده وژغوري اوداسلام دامن اوعدالت په سمسور بڼ بدل کړي.

دبهرنیوهیوادونو دمداخلي مخه هم په هغه صورت کي نیول کیداي شي چي په افغانستان کي دټول ملت په خوښه یومستحکم اسلامي حکومت قائم شي، اوداکارعلمه ممکن کیداي شي چي دافغانستان ټول مشران دخپلي خاوري، ملت اوآزادي ته له هرڅه نه اولیت اومقدم والي ورکړي خپل ټول خواهشات قومي، لساني اوسمتي تعصبونه داسلام، هیواد او ملت په خاطرقرباني کړي، ټول په سوچه اخلاص اوصفائیت سره پخپلو کي داسلامي ورورولي اتفاق اویووالي لاسونه ورکړي ځکه چي داسلام غوښتنه همداده چي مسلمانان پخپلو کي سره ورونه وروڼه دي مومنان یوډبل اولیا، اودوستان دي اوالله پاك خپلوبندګانوته اعلان کوي چي کونوا عباد الله اخوانا.

واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولاتفرقوا

یواځي دالله (ج) ددغه فرمان په عملي کیدو سره ټول کندي کیږي هراړیداي اوافغانستان دامن په ځانګو بدلیداي شي همدایي اصلي علاج دي.

راه حل مسایل موجود در جهان اسلام

بابقدرت رسیدن نتن یاهو دراسرائیل اگر ازیکطرف یهودي هاي متعصب وتند رومطمئن به نظرمیرسند ولي ازجانب دیگر میزان اضطراب وتشویش مسلمانان نیز تاحدزیادي افزایش یافته است. درهفته اخیرماه گذشته دریك درگیري میان مسلمانان مظلوم فلسطیني و نظامیان خون آشام اسرائیلي بیست تن از فلسطیني ها به کام مرگ فرورفتند واین قتل عام اولین قتل عام پس از معاهده صلح میان عرفات وصدراعظم اسبق اسرائیل میباشد که میتواند ابعاد بیشتري کسب کند، ازطرف دیگر ملك حسین پادشاه اردن، حسني مبارك رئیس جمهور مصر، ملك حسن پادشاه مراکش وتعداد دیگرازسران عرب تلاش دارند تامعاهده مذکورکماکان الـسابق اعتبارش راحفظ نماید.

دیداراخیر عرفات و نتن یاهو صدراعظم اسرائیل که بدعوت کلنتن درقصر سفید صورت گرفت نتایج امیدوارکننده ئي در قبال نداشت زیرا حکومت موجوده اسرائیل برهبري نتن یاهو نهایت متعصب وآماده نیست تادست ازتصرف بیت المقدس بردارد وهیکل سلیماني رابه مسلمانان تسلیم دهد، مزید برآن شاروال یهودي بیت المقدس تونل موجود درآن شهررا امتداد وتوسعه بیشتر داد و در نتیجه آن بـا از مقدسات مسلمانان مورد بي حرمتي قرارگرفت.

قرار است پنج هفته بعدانتخابات ریاست جمهوري امریکا دایرگردد دراین جریان ناراض ساختن یهودي هاوهمچنان مجروح ساختن احساسات مسلمانان هردوبراي کلنتن رئیس جمهور امریکا قابل قبول نیست چنانچه کلنتن درضیافتي که درموقع عیدسعید فطر درقصر سفید دایرکرده بود تاحد زیادي همدردي مسلمانان را بخود جلب کرده بود چون کلنتن باني معاهده صلح میان عرفات واسرائیلي ها است بیشتر میکوشد تااین معاهده بر سر جایش باقي ودردرازمدت عملي گردد. اکنون برزمامداران کشور هاي اسلامیت تابا استفاده از تدبرو دوراندیشي وفهم وفراست سیاسي شان یهودي هاي متعصب را ازاجراي انواع مظالم درحق فلسطیني ها بازدارند واجازه ندهند تایهودي ها براماکن مقدسه مسلمانان تاخت وتاز نمایند.

ازجانب دیگر در شرایط حاضر درافغانستان طالبان عملاً قدرت رابدست گرفته اند ومیخواهند نظام وشریعت اسلامي رادرافغانستان نافذ نمایند اما گذشت زمان نشان خواهد داد که طریقه یي راکه طالبان درجهت معرفي اسلام مورد استفاده قرارداده اند راه وطریقه درستي نیست، درحال حاضر نظریات اسلام که سابقه یکهزارو پنجصد ساله دارد میتواند نافذ گردد اما طرززندگي وجامعه برسبك سابق نمي تواند ایجاد شود.

طالبان درحال حاضر به همه ولایات افغانستان حاکم نیستند اگر درچنین شرایطي همه رهبران جهت شرکت دریك کنفرانس فراگیر دعوت شوند وصلح برقراروقدرت سیاسي میان همه تقسیم گردد این کارباعث جلوگیري از خون ریزي وویراني بیشتر در افغانستان خواهد شد درغیرآن معلوم نیست که تاچه وقت مسلمان بدست مسلمان قتل خواهد شد وخون ریزي وویرانگري درافغانستان ادامه خواهد یافت.

صدراعظم پاکستان هنگام سخنراني درمجمع عمومي سازمان ملل پیرامون مسئله کشمیر به تفصیل صحبت کرد و اظهارداشت که مسئله کشمیر صرف مربوط به پاکستان نیست بلکه این مسئله مربوط به همه امت مسلمه است وشهادت چهل هزارمسلمان کشمیري وتجاوزبرعفت و عزت صدهازن ودختر کشمیري نمونه هاي آشکار از وحشت وبربریت و مظالم بي حدوحصر هندوها میباشد.

دراین اواخر نشست مشترك رهبران سابق وفعلي آزاد کشمیر در نیویارك مبین این حقیقت است که کشمیري ها باوجود اختلافات ذات البیني شان درجهت رسیدن به اهداف عالیه شان میتوانند باهم کنار بیایند. مشابه به این واقعه درگذشته ها دردهلي جدید نیز چنان واقعه رخ داده بود درآنزمان مولانا مفتي محمود دریك کنفرانس خبري درآن شهر صحبت میکرد ودرعین زمان تحریك PNA که یك تحریك مخالف حکومت ذوالفقارعلي بوتو و خواستار برکناري حکومت وي بود در پاکستان نیزباشدت وقوت بیشتروارد عمل بود در این میان خبرنگاري ازمولانا مفتي محمود پرسید که آماده هستید در مورد ذوالفقارعلي بوتو خبري بگوئید وي جواب داد: زماني که به لاهوربرگشتم میتوانید دراین مورد ازمن سوال کنید. در این اواخر زماني که بینظیربوتو صدراعظم پاکستان واردامریکا شد تعداد زیادي ازپاکستاني ها هنگام سخنراني او درمجمع عمومي سازمان ملل درجلوعمارت آن سازمان دست به تظاهرات زدند باآنکه تعداد تظاهرکننده گان قلیل بود اماهنگام وارد شدن نتن یاهو صدراعظم اسرائیل به نیویارك که یك شخصیت متنازع فیه میان اسرائیلي ها میباشد وحتي برخي از مردم وحلقات موجود دراسرائیل وي را قاتل اسحق رابین صدراعظم اسبق اسرائیل میدانند کوچکترین مخالفتي ازجانب اسرائیلي هاي مقیم امریکاباوي صورت نگرفت، این بدان خاطر که یهودي ها میخواهند منحیث یك قوم زنده درجهان باقي بمانند ولي مسلمانان باانحراف ازاهداف اساسي شان مصروف درگیري هاي ذات البیني بین خود اند اگرآنها بجاي چنین کاري باهم همدست وهم آواز گردند بدون شك به مراتب ازیهودي هاموفق وکامیاب خواهند شد.

اخیراً بیست ویك کشور عربي درکنفرانس قاهره ضمن اینکه ازاسرائیل خواستند تابلندي هاي جولان را به سوریه

بقیه درستون ۲، صفحه ۴

دلویدیځ هند په ټاپوګانوکی مسلمان لږکی

د شمالي اوجنوبي امریکا په منځ کي داوقیانوس اوکارابین سمندرترمنځ چي څومره ټاپوګان پراته دي هغوي ته په عامه اصطلاح کي جزائرغرب الهندویلي شي چي دټولو یادونه په لاندي توګه په ترتیب سره کیږي اوپه هریوجزیره کي دمسلمانانو په باب معلومات هم وړاندي کولي شي.

ترینی داد او توباګو کي مسلمان لږکي

کولمبس په ۱۴۹۸ع کال کي ترینې داډته ورسید، لدي نه وروسته بیا هسپانوي وګړي دلته راغلل، دفرانسي له انقلاب نه وروسته فرانسویان هم راغلل اومیشته شول، په ۱۸۰۲ع کال کي انګریزان قابض شول خویه ۱۹۶۲ع کال کي ئي بیرته استقلال واخست.

دمسلمانانو تعداد:

د ۱۹۶۰ کال دنفوس شمارني مطابق په ترینې داداوتوباګوکي پنځوس زره مسلمانان اوسیدل، خو دموتمرعالم اسلامي دیادداشت په مطابق دمسلمانانو شمیر په اوسني وخت کي یولك اوځلوېښت زروته رسیدلي دي، هلته دټولو مسجدونو شمیر ۷۵ ته رسیږي له مسجدونو سره جوخت مدرسي هم فعالي دي او ډېرښه انتظام لري، په مجموعي توګه مسلمانان خوشاله دي اوژوندیي هم په زړه پوري دي، زیاتره مسلمانان تاجران، قانون دانان، ډاکتران اوانجنیران دي، په حکومت کي هم مسلمان وزیران شته اودسینټ صدرهم مسلمان دي.

قرآن کریم او نوردیني اوعلمي کتابونه په اسانۍ سره ترلاسه کیږي، اګرچي اسلامي شخصي قانون دحکومت له خوا ندي نافذخومسلمانان داسلام پرقانون عمل کوي او خپلي فیصلي دقران په رڼاکي حلوي.

په توباګوجزیره کي یوازي څلورسوه مسلمانان اوسیږي لیکن تراوسه پوري ئي کوم مسجد ندي جوړکړي خودتازه اطلاع له مخي پوه ټوټه ځمکه د مسجد په خاطر خریداري کړي اوډېرژربه دمسجد جوړولو کاربیل شي.

ډاکټرکتاني دمسلمانانو دتاریخ په باب لیکي چي په ۱۸۳۸ع کال کي انګریزانو له هندوستان نه مزدوران راوړل چي اکثریت ئي هندوان وو خوپه کم تعداد کي مسلمانان ورسره هم راغلي وو.

کیوبا:

په غرب الهند کي له ټولو جزیرونه لویه جزیره ده ټوله ساحه یي ٤٤ زره مربع میل اویولك څوارلس زره مربع کلومتره ده ټول نفوس ئي لس ملیون اوپایتخت ئي هوانادي، دلته دمسلمانانو د تاریخي سابقي په باب لیکي چي په شپاړسمه پیړي له هسپانوي پوځیانوسره اندلس مسلمانان هم داخل شوي وو، کوم سري چي له کولمبس سره یو ځاي لومړي ځل امریکاته راغلي و هغه بیا مسلمان شوي و.

دتیري پیړي په آخري عشره کي شامي عربان کیوباته راغلل چي زیاتره پکي مسلمانان وو اوپه ۱۹۵۱ع کال کي دمسلمانانو شمیر پنځوزروته رسیدلي وُ لیکن دکمونست حکومت له جوړیدونه وروسته دمسلمانانو په شمیره کي کمي راغي اوزیاتره شا وخوا پرتوجزیروته مهاجر شول په ۱۹۷۱ع کال دمسلمانانو شمیر یوازي زروتوته رسیده، هلته دمسلمانانو نه کوم ځانته تنظیم شته اونه کوم مسجد او اسلامي مرکز حتي چي قانوني حیثیت هم نلري اوددي خبري زیات احتمال شته چي مسلمانان خپل موجودیت له لاسه ورکړي.

جمائیکا:

دغه جزیري ته کولمبس په ۱۴۹٤ع کال کي رسیدلي و، لدي نه پس بیاهسپانیې وریاندي قبضه وکړه په ۱٦۵۵ع کال کي انګلستان پخپل قبضه کي واخسته وروسته بیا په ۱۹٦۲ع کال کسي یي آزادي ترلاسه کړه.

په جمائیکا کي دمسلمانانو دشمیر په باب یو مسلمان ژورنالست محمدسمیع الله لیکي چي هلته دمسلمانانوټول شمیرله دري زرونه زیات دي، دوه مسجدونه پکي آباد دي چي یوه به کتیرائن کي اوبله یي په سنت موالیتهکي ...

ډاکټرکتاني دلته دمسلمانانو تاریخي سابقي په باب لیکي چي دلته انګریزانو له افریقانه دغلامانوپه صورت کي راوستي وو، خودناسمو حالاتوله کبله ټول مرتد شول بیا په نولسمه پیړي کي له هندوستان نه مزدوران راوغوښتل چي پکي مسلمانان هم وو، د۱۹۷۳ع کال درپوټ مطابق په جمائیکا کي لس زره مسلمانانوژوند کاو خوزیاتره داسلام له اصل روح نه ناخبره وو.

په ۱۹۵۰ کال کي له ترینې داډنه ځیني مسلمان طلبه جمائیکاته راغلل چي پکي یوجمشیدنومي ډاکټرهم و هغه وکتل چي هندوستاني مسلمان نه له لمونځ اداکوي اونه روژي نیسي اونه له اسلام څخه باخبره دي، نه تنظیم لري اونه مسجد، لدي کبله هغه دیوطالب په ذریعه دمسلمانانو تنظیمول شروع کړل چي په زړه پوري نتایج ئي ترلاسه کړل دهغه دکوښښونو په برکت په

پاتی ٤٤ مخ ٦٥ ستون

تاچــه وقـت ایـن جنگ دوام می نمـایـد ؟!

کشورما را خطر تجزیه شدن تهدید می کند

هموطن گرامی ما انجنیر محسن نامه مفصلی را چندی قبل بما فرستاده بود که توجه تانرا به بخشی از آن معطوف میداریم :

بایك نگاه ژرف وعمیق به اوضاع سیاسی - نظامی کنونی افغانستان ، میتوان چنین نتیجه گیری نمود :

اگر انکشافات بعدی اوضاع ،بدین منوال به سیرو تکامل خود ادامه بدهد ، درآنصورت کشور ما را خطر تجزیه شدن تهدید می کند.

وضع بغرنج وناهنجار نظامی کنونی حاکم برکشور ما ، تمام ساحات فعالیت های اجتماعی وسیاسی را چنان تحت الشعاع قرار داده،است که هرگونه امیدی برای بیرون رفت ازمعضله کنونی را ، در اذهان عامه ازبین برده است . مردم عام وعادی کشور ما ، چه درداخل وچه درخارج افغانستان ، درسرگردانی و سردرگمی خاصی بسرمی برند وادامه جنگ داخلی ،باعث گردیده است که آرزووامیدشان در راه رسیدن به یك زندگی صلح آمیز ومعمولی ، بکلی به یاس وناامیدی تبدیل شود.

بدبختی یك ملت زمانی آغاز میگردد که کشور دریك خلای قانون وحکومت مستحکم ومقتدر مرکزی گرفتار شود و متاسفانه که چنین بدبختی بزرگ دامنگیر ملت افغان گردیده است. ملت ما دراین جنگ ٤ سال اخیر بارسنگین خلای قدرت مرکزی رابدوش کشیده وچنان صدماتی از این ناحیه بر پیکرش وارد گردیده است که از اثر آن برزمین افتیده ولاش ناتوان وزخمی اش توان ایستادن را از دست داده است . ولی هنوز هم کسی بحال رقت بار ملت دل نمی سوزاند وتلاشی بخرج نمیدهد تا ملت را از این وضع نجات بخشیده وبارسنگین جنگ را از دوشش بردارد. امروز این سوال ذهن هرباشنده کشور جنگزده ای مارا آزارمی دهد که : تاچه وقت این جنگ دوام می نماید ؟

انکشافات اخیر اوضاع نظامی درولایات واطراف شهر کابل چنین نشان داد که وضع پیچیده و " کورگره " سیاسی نظامی کنونی ،صرف از طریق زور ،قابل حال وباز شدن نیست . چه طرف های درگیر جنگ کنونی همه مجهز باآلات وابزار جنگ وآدم کشی اندوتوانایی آنرا دارند که بدون لحظه تامل وتفکر بحال وطن وملت ، ماشین جنگی شانرا به حرکت آورده ولاش های زنده هموطنان شانرا به خاك وخون بکشانند.

اینکه جنگ خرابکارانه وتعرضات بی نتیجه چه ارمغانی از ویرانی ها ، خرابی ها ونابودی ها بجامانده است تاریخ در آینده قضاوت خواهد نمود افغانستان کشور کثیرالملیتی است وهمه ملتها دران از حقوق مساوی وبرابر برخوردارند. این اصل است که سیاست احزاب واطراف درگیر باید بران استوارگردد.

بدون درنظرگرفتن این اصل اجتماعی مشکل اساسی مردم ما هیچگاه حل نخواهد شد . درصورتیکه جوانب درگیر با هم به تفاهم نرسند وهمدیگر راتحمل نکنند جنگ کنونی بزودی خاموش نخواهد شد ومردم ما هم چنان در انتظار نوید صبح صلح مجبور به تحمل شب های تاریك بیشمار درآینده خواهند بود که این از حال وحوصله ملت جنگزده ما خارج است .

هم چنان تهدید خطر خارج ومداخله اجنبیان بیشماردرامور داخلی کشورما ، زمینه تجزیه کشور جنگزده ما را فراهم ساخته ومصیبت های بیشتري را برای مردم ما به ارمغان خواهد آورد .در صورت ادامه وضع کنونی وتشدید خطرات مذکور ،مردم وکشور ما سخت مورد تهدید قرار گرفته است بنا ؛ چنانچه دربالاذکر شد، یگانه راه معقول اینست که طرف های درگیر جنگ کنونی با هم به تفاهم رسیده واز سیاست مخلصانه وصادقانه در برابرملت استفاده کنند تا در آینده نزدیك آرمان ملت ما که عبارت از صلح وآرامش است ،برآورده شده وکشورما از مداخله کشور های بیگانه درامان بماند.

این نه تنها موفقیت همگان را تضمین می نماید ، بلکه برای اعمار وتشکیل حکومت ملی ومردمی در پنده کمك بزرگی در راه حل مشکلات موجود خواهد نمود.

الجنیر محسن

شهادت اولوستونکي

این همه ازبرکت علم است

احترامات بی پایان خویش را خدمت کارکنان محترم نشریه شهادت تقدیم نموده از خداوند (ج) موفقیت مزید تان را در امور نشراتی میخواهم .خواستم در ارتباط به نعمت بزرگ علم که چه مزایایی دارد خدمت خوانندگان گرامی روزنامه شهادت پیش نمایم گرچه چندان درامور نویسندگی دست رسی هم ندارم امید است بابزرگواری خویش بنده را عفو نموده وهمکاری شمایان را هم میخواهم .

علم به معنی دانش ومعرفت مانند نور است که قلب ودماغ را روشن می سازد.

علم است که جهان را همچو چراغ فروزان نموده وانسان را ازتاریکی جهل ونادانی نجات می دهد.

وعلم است که انسان راه صراط مستقیم را می آموزند وعلم است که انسانها خالق خود را می شناسند.

این همه ترقی وپیشرفت جهان را که مشاهده می کنیم همه از برکت علم است .

برما لازم است تا ازین موقع حساس استفاده درست نموده و راه علم را پیش گریم .

زیرا علم است که ما را هرنوع راه نشان میدهد وانسان را متوجه می سازد که باید چه راهی را در پیش بگیریم .

باید تلاش نمود تا از بهترین علم عصری ودینی خودرا برخوردارنمائیم وبرای ملت مظلوم ومردم بیچاره خود مصدر خدمت بیشتری شویم .

والسلام . نویسنده خواجه محمد رفیع «هاشمی » متعلم صنف دهم (الف) لیسه عالی حدیبیه .

دموجودو ښوونځيو مسؤلين دي په لاندي ټکو عمل وکړي

ښاغلولوستونکو! څــه موده دمخه ښاغلي رحيمي صاحب د ښوونې او روزنې دښه سمون په باب خپل نظريات راليږلي وو چي موږ يې يوه برخه خپره کړي وه دابرخه داوسني تعليمي برخي له پاره ضروري خبري لري چي دادي ستاسي پام ورته راگرځوو.

١ - دتمويل او کنترول کونکو اداراتودنه موجوديت پــه اثر اکثريت ښوونځي دفيس په مقابل کــي چليږي چي دغه عمل زموږ په ټولنه کي دداسي يوه رواج دېره کيښوده چي زموږ په ملك کي هيڅ سابقه نلري او ددغي نوي پروسي پياده کول لاندي ستونزي اومشکلات راولاړ کړي دي .

٢ - ددغــي ښوونځيو ځيني اداري ددي لپاره چي زيات شمير زده کونکي جلب اوله دغي لاري زياتي پيسي ترلاسه کړي تودښووني اوروزني ضوابط او اصولوته چندان توجه نه کوي . بي له دي چي دزده کونکي صنفي سويه په نظرکي ونيول شي دهغه دغوښتني سره سم ټولگي ته قبليږي اوهم دازموينې په وخت کي بي تو لــه نمري ورکول کيږي .

٣ - ددغې ښوونځيو فعالول يو تجارتي کسب او پيشه گرځــيدلي اوهرڅوك دخپل ميل يادزده کونکيو دميل مطابق نصاب انتخابوي چــي ځيني ئي زموږ داسلامي انقلاب په اهدافوبوخطرناك گڼاردي .

٤ - زموږ دټولني اکثره کورني برسيره پردي چــي دهجرت ږول ږول کړاوونه اوستونزي يــي گالي د فيس ورکولو توان نه لري توددغــي کورنيو اولادونه دتعليم له نعمت څخه بي برخي پاتي کيږي .

٥ - ددغــي ځيني په خپلسرو ښوونځيوکي دضوابطو په ځاي روابطو ته ترجيح ورکول کيږي اواکثر غير مسلکي کسان چــي د درسي اصولو اوميتودونوسره بلدتياتلري استخداميږي چي دغه کړنه اوعمل په ښوونه او روزنه کي نيمگړتياوي راولاړوي .

دغــه پورتني کــړاوونه اوعوامل دځينوزده کونکو ديې ميلي باعــث گرځي داچــي ولي مهاجر زده کونکي دستونزو دموجوديت سره سره دمقامي اوانصارو زده کونکو څخه وراندي تگ کوي دغه زده کونکي هغه بااستعداده کسان دي چي دپوهي او فرهنگ سره خاصه مينه لري له بوي خوا په داسي يوه کورني کي روزل شوي چي هغه کورني غواري نيك سيرته اودپوهي خاوندان اولادونه ولري ترڅوهم دځان، کورني اوهم دخپلي ټولني لــپاره دخدمت مصدر وگرځي . لــه بلي خوادغــو د كونكو روزنه په داسي ښوونځيو اومدارسوکي شوي دي چي دهغه ښوونځي اداره بااحساسه اوتجربه لرونکي دي چي دخپل چاپيريال دنظم دساتني لــپاره دمطــروحه اصولو اوقوانينو پــه بنياد عمل کوي اوهم ددرسي مــسلکي اوتجربه کاروښوونکو لرونکي دي چي خــپل ټول وخت دزده کونکي دعصري ميتودونويه مراعات سره په ښه روزنه کي تيروي .

